# نظامنامهٔ د

# حاضري

## د مامورینو د دولت د افغانستان

په (۱) د جوزا په ۱۳۰۶ هجري شمسي

په مطبع کښې د "شرکت رفیق" په ماشینونو

د کابل کښې چاپ شوېدی

قیمت دیو جلد (۱۶) پول

شماره د چاپ ........................ (۲۰۰۰)

بسم الله الرحمن الرحیم

# قانون نامهٔ حاضری

## مقدمه

ټول مأمورین چه تر وزارتو او مستقله مو
او نائب الحکومگیو او حکومتیو پوری تعلق
لری، سمله قاعدو د دی قانون نامی سره هره
ورځ په معلومداره وقتونو په ورکلو دحاضری
خپلو سره مجبور دی .

قاعده

(۱) - وقتونه د حاضری د ټولو مامورینو له د
پنځه لسو د میاشت دحمل څخه تر میې

پنځه لسمی د میزانه پوری له ساعته دا ته څخه
تر څلورو نیمه پوری او د ثور د پنځه لسمی د میزا
نه تر پنځه لسمی د حمله پوری له
ساعته د نه څخه تر دری نیمه پوری منظور
دی - که د روژی مبارکه میاشت
په دا سی وقتو کښی راتلله چه حاضری
له ساعته دا نه تر څلورو نیمه پوری وه.
نو حرمتاً لپاره د شرافت د روژی صباحی
په ساعت د نه، او بیګائی په دری
اجرا د حاضری کیږی - او که په
دا سی وقت کښی راتلله چه حاضری له
ساعته د نه څخه تر دری نیمه پوری وه
په دی وقت کښی تخفیف نه لری.

(۲):- په مرکز کښی، مدیر مامورین د وزارتو
او آمر مامورین د مستقله دائره او په

نائب الحکومنکو او حکومتیو او په د فترکښ،
د مستوفیانو، هغه مامورچه مستوفیانی ئ،
لپاره د کتلو د حاضری مقرر کړیدی،
حاضری د حاضری ورکونکو په گوری
تصدیق او کتل د حاضری د نورو حاضری
ورکونکو، په واسطه د مامور د هغی
شعبی سره یا هغه څوک چه هغو لی مقرر
کړی، کیږی.
(۳):- مامورین د حاضری هره ورځ د صباحی له
خوا په وقت د حاضری کښن، کتاب د جلد
د حاضری به خپل محل ته ورځی، تر پنځو و
د لس دقیقو له معین وقت د حاضری نه په
کوری، هر مامور چه حاضریږی،
په برابر د نوم خپل به امضا او دستخط کړی.
(٤):- پس له کتلو د حاضری د صباح نه چه لس دقیقی

له وقته د مقرری د حاضری نه تیری شی
مامورین د حاضری، کتاب د حاضری به
په مرکز کښی وزیر او معین او مدیر مستقل
ته - او په نائب الحکومګیو او په حکومتیو کښی
مستوفی او دفتریانو - او آمرین د حاضری ته
وړاندی کوی، هغو به حاضری د مامورینو
چه دوی پوری تعلق لری له نظره تیره وی، په
آخر د هغه کښی به حاضری د صباح امضا او
دستخط کوی.

(۵) - د تماشا دیګر له خوا هم په وقت معینه کښی
مدیر د مامورینو او مامور د حاضری به په کتاب
و جدول د حاضری کښی امضا او دستخط دیو
مامورینو په برابر د نوم د دوی کښی آخلی
پس له هغه، همغه وخت په مرکز کښی تصدیق
د وزیر یا د معین یا د مدیر مستقل او په نائب

الحکومګیو او په حکومتیو کښې به امضا د
مستوفیانو او د دفتریانو او د مامورین د
حاضری کوی ۰

(٦): هر مأمور چه ترلس د فقو پوری پس له معین
وقت د حاضری د صباح د هغی ورځی، حاضر نشی
او په برابری د خپل نوم په کتاب د حاضری کښې
امضا او دستخط و نکړی غیر حاضر د یو ورځی شما
شی، په سبب د غیر حاضری د یوی ورځی د پنځو
ورځو تنخواه د ده قطع او کسر زول کیږی ۰

(۷): مبلغ د غیر حاضری د مامورینو په مرکز کښې په
قرار د خیر ورکول د مدیر مامورین په امضا
د وزیر او مدیر مستقل سره د ده ورځی بخوا الرجاعی
کیدلو د تنخواه نه، هغی دائری ته چه له دی
څخه تنخواه د هغه مامور ورکول کیږی، له تنخواه
څخه د هغه غیر حاضر سړی کم و کسر کیږی په نائب الحکومګیو

او حکومتیو کښې په واسطه د مستوفیانو او محلي دفتریانو له تنخواه د هغه تخه چه غیر حاضري شوي وي کړي.

(۸):- هر کله که یو له حاضري ورکونکو، له خپلې دائرې نه حضور د اعلیحضرت ته یا کم وزارت او دائره مستقله ته، یا په نزد نائب الحکومه گانو او حاکمانو وه غوښتل شي - په مرکزکښې مدیر یا آمر د مامورینو او په ولایتو کښې مستوفیان او دفتریان او مامورین د حاضري چهاپي تکټ چه موجود دي، دې غوښتلي شوي ته، به ئي ورکوي - پس له تمامولو د کار نه، په وقت د بیرته ورتلو کښې خپلې دائرې ته، په هغه تکټ باندې چه مرکز کښې له کاتبانو د حضور نه یا له هغه وزارتونه چه دې ئې ور غوښتي د او یا ولایتو کښې له مکتوب نویسانو د نائب

الحکومتکانو او حاکمانو څخه به تصدیق د
کار څېل حاصلوی ، څېل کار او څېلی
دائری ته به بیرته ورشی .

(۹) : هر کله چه یو له حاضری ورکونکو نه
په وقت د کار او خدمت کښې یې له تکټ
نه په کوڅه او بازار کښې ولیده شی د لسو
ورځو تنخوائی کړشی .
په مرکز کښې په واسطه د هغی دایری چه له د ینه
تنخواه هم هغه مامورته ورکوله کیږی په دی
د خبر ورکولو د مامورینو د حاضری چه په امضا
د وزیر یا د معاین او مدیر مستقل د هغی دائری
ته خبر ورکاوه کیږی ، او په نائب الحکو
او حکومتیو کښې په واسطه د مستوفیانو او
دفتریانو له تنخواه د غیر حاضرینو مبلغ د غیر
حاضری د دوی قطع او کرځول کیږی .

(۱۰):- په مرکز کښې، وزیر او معین او مستقل مدیر
په نائب الحکومګیو او حکومتیو کښې، مستوفیان
او دفتریان، حق او صلاحیت د پلیټنه د حاضرې
د مامورینو خپل لري. مدیر د مامورینو یا آمر د مامورینو هم وخت
کولای شي چه وزیر یا معین یا مدیر مستقل ته په باب
کښې د پلیټنه د حاضرې د مامورینو یاد آوري
وکړي.

(۱۱):- هر کله چه یو له حاضرې ورکونکو مامورینو
څخه مریض شی باید چه په مرکز کښې، وزیر
یا مدیر مستقل ته، په نائب الحکومګیو یا حکومتیو
کښې، مستوفیان او دفتریانو او مامورینو د حاضرې ته
په لیک سره اطلاع او خبر ورکړي، که
چیري د مریضي او رنځورۍ په یو کال کښې
متصله ئي په ئي یا بیلي بیلي پیښی شی حق د
معاش لري، لکن زیاد په ... ورځو نه، په قرار

د (۱۲) قاعدې سره سمې تنخواګانې ورکړې کېږي - په حال
د حضر یعنې چه سفر نه وي، که د رنځورو مامورو
استوګنه په ښهر کښې وي تصدیق د حکیم،
او که خارج له ښهره وي تصدیق د
قریه دار او د ولسوالۍ وي - په حال د سفر کښې یواځې
تصدیق د مدیر یا د رئیس کافي دی، که
مامور مریض شي او په دا قرار سره چه پاس
بیان شه تصدیق حاضر نکړي غیرحاضر
کانه شي .

(۱۲):- هر کله یو له مامورینو څخه سخت بېمار
مریض شي، په پنځه لس ورځو کښې په قرار
د (۱۱) قاعدې سره تنخواګانې پوره ورکوله
کېږي، پس له هغه نه که رنځوري د ده ومیاشتو
شوه، په مرکز کښې تر یوکاله پورې نیمائي د تنخوا
د ده ورکوله کېږي، په نائب الحکومګیو

او اعلی حکمتیو کښې څلورم برخه د تنخواه
د دوی ورکوله کیږي - پس له یو کال نه که
حق د مستمري تنخواې درلوده، په قرار د قانون د
مستمري سره، مستمري تنخواه به ورکوله کیږي
او که مستحق د مستمري تنخواه نه وي د دولت له
خدمت څخه بدل ولې سپکیږي۔

هغه مامور چه زیاد په پنځه لس ورځو مریض شي
که وظیفه د ده داسې شان کار وڅخه وي چه
شریکي قابلل شي، نو کار د ده به هغه مامورین چه
شریک د کار د ده دي بې له تنخواه څخه کوي - او که
کار د ده له شریکه کار وڅخه نه وي تر زمانه د غیبت د
د مریض مامور، که ممکن وي، وظیفه د هغه په واسطه
دې له مامورینو د مشترکه دائرو اجرا کړي
او که په دې شان سره ممکن نه وي د مریض مامور
پځای د، د هغې دائرې د رئیس له خوانه وکیل

مقرّر شي ، له نيمائي نه تر دوي څاربيکه د تنخواه

د مريض مامور د کار وکيل ته ورکول کيږي

(۱۳) چې کله يو له حاضري ورکونکو مامورينو څخه موقوف

شي، او مبلغ د غير حاضري پرې باندې باقي پاته

وي، مدير د مامورينو د په مرکز کښ دائره د

تحصيلکار ته خبر ورکړي، چه هغه مبلغ ځا

له ده څخه واخلي- په نائب الحکومکيو او حکومتيو

کښ، مستوفيان او د فتريان د په واسطه د تحصيل

سره له دوي څخه حاصل کړي، اوکه مړ شي ؟

حق د تنخواه د ده په دولت باندې پاته وي ،

نو مبلغ د غير حاضري له تنخواه د ده څخه چه په

دولت باندې پاته دي، وضع کول شي ، او

باقي تنخواه د ده ورثه د ده ته ورکوله کيږي

اوکه تنخواه د ده په دولت باندې پاته نه وي

مبلغ د غير حاضري ئې معاف دي له ورثه د

څخه نه اخستنه کیږي.

(۱٤):- حاضري ورکونکو ته، غیرله اول واري داده ده

کښ، چه شل ورځي رخصت ورکول کیږي،

او غیر المنووی عمومی رخصتیو چه په (۱۷) قاعده کښ

بیان شویدي، نور رخصت نه ورکول کیږي

اپاره د نورو ورځو اوقاتي او لپاره د تمامي سببونو

موجبه د رخصت او ورځو د ضروري رخصتیو څخه

چه په (۳) قاعده د نظامنامه د رخصتي کښ بیان

شوي دي. اخستای شي.

(۱۵): په یو فرصت کښ چه کم لوی ضروري کار پېښ

شي، په مرکز کښ وزیران، په ولایتو کښ نائب الحکومه

او حاکمان، تر وقته د تمامولو د هغه کار، برسیره

په معلومه وقت د حاضري باندي څه مدة ساعت

د کار زیاده ولاړي شي.

(۱٦):- حاضري ورکونکي مامورین، پس له حاضري

ورکولو د ماشخدا یکر څخه چه زیاد فرصت وی ، د ماشخدا یکر مونځ پر اداکوی ، په خوا له حاضری ورکولو د ماشخدا یکر څخه هیشه په وقت د کار کښی کار نه شی پریښودی ۰

(۱۷) :- عمومی رخصت په دی قراره سره دی چه لاندی ذکر کیږی

(۱) :- د جشن استقلال په مرکز کښی (اته) ورځی په نائب الحکومگیو او اعلی حکومتیو کښی (دری) ورځی - تاریخ د شروع د جشنی د هر کال په تقویم یعنی جنتری کښی معلومیږی ۰

(۲) :- د کم اختر (اوله او دویمه) ورځ د اختر

(۳) :- د لوی اختر (اوله ، او دویمه ، او دریمه او څلورمه) ورځ د اختر ۰

(۴) :- لسمه ورځ د محرم الحرام (یوه) ورځ

(۵):- د دولتیه د ربیع الاول په سبب د مولود شریف (یوه ورځ)

(۶):- رسمی عید د مبارک جلوس سره له استقلال د غازی اعلیحضرت (نهمه) د حوت - که چیری له دی عید په شپه کښ وی رخصتی نه لوی، او که په ورځ کښ وی، یوه ورځ رخصتی لوی ۰

(۱۸):- پس له دی د جمعی د ورځ رخصتی د مامورینو د پنجشنبه په ورځ سره بد له شوله - او آزادی د نیمی ورځی د جمعی بنا په دی سبب چه اَو دَس او نموځ د جمعی په ښه شان سره وکړی شی، له (۱۲) ساعته څخه تر (۲) ساعته پوری منظور دی ۰

(۱۹):- چپراسیان د وزارتو، او د ټولو دولتی دائرو

تر مسئولیّت د (٦) قاعدی د دی قانوننامې نه راځي، په مقابل د هری ورځې غیرحاضرۍ تنخواه د هغې ورځې لګښو کوښول کیږي.

(۲۰):- په چلول دِ قاعدو د دی قانون نامی سره پس له تصدیقه او خوره کول د هغې په ټولو ماموریو د ټولو وزارتو او د مستقلو دائره او نائب الحکومګیو او حکومتیو، او په مامورین د حاضری امراوارادهٔ کومه او دستورالعمل د حاضری چه نخوا د دی تخنه چلیده پس له دی منسوخ دی.

# ضمیمهٔ نظامنامهٔ رخصتی

هغه مأمورين چه نظر (٦) قاعدی د دی نظامنامی
غیرحاضر بیږی، که رقعه د اطلاع د هغو پښتلو په
قانونی رخصتی د دوی په هغه ورځ کښی ورسیږی او آمر
مافوق اجازه ورکړیوی، او تصدیق ئی وکړی له ورځو د قانونی
رخصتی د دوی څخه حسابیږی، او په کتاب د حاضری
کښی به غیرحاضر لیکلی شوی دی کیفیت به ئی ورکړل
شی - دستخط او امضاء د وزیر یا مدیر مستقل به پری
وکړی له غیرحاضری څخه معاف او بخښل کیږی،
او که آمر مافوق ئی تصدیق ونکړی او اجازه ورنکړی یا
حق د قانونی رخصتی ونه لری غیرحاضر شماره شی.

(٧) جوزا سنه ١٣٠٦

# قعد یلي او سموالي د (۱۱) قاعدې د نظامنامې حاضرې

که هغه وړخې د مریضې او رنځورې چه په (۱۱) مادې
کښې یاد شویدي، په یو کال کښې متصلې په پسې یا بیلې بیلې
شي حق د مجرائي لري، لاکن زیاد په پنځه لس ورځو چه قرار د
دوه لسمې قاعدې سره نیمې تنخواه د دوی کوځي، په حال د
حضر او سفر په دواړو صورتو کښې سم له علم او اطمینان او
داوینو د آمر مافوق په موجب د تصدیق د آمر مافوق،
حق د مجرائي لري، هغه کسان چه سم له پاس بیان سره تصدیق
د آمر مافوق خپل حاضر نکړي غیر حاضر کاښه شي.



(۱۸) سرطان

| غلطنامه د قانون حاضرې | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| مخ | کرښه | داسې چاپ شوی | داسې دې ولوستل شي | مخ | کرښه | داسې چاپ شوي | داسې دې ولوستل شي |
| ۱ | ۷ | ورکلو | ورکولو | ۷ | ۱۰ | درکولو | ورکولو |
| ۳ | ۱۱ | توتړیدو | توتړیدو | ۹ | ۱ | دده | د دوی |
| ٤ | ۳ | ارمعین | اومعین | ١٤ | ۹ | ودخ | ودځي |
| ۵ | ۷ | یوووړی | یوی وړی | | | | |